مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی عبدالله ۲۰۲۱/۱۱/۲۱

# غزل

په شاهی او گدایی کی توپیر نشته
یوه شپه د ژوندانه ده ی تیریږی

ژوندانه باندی له سره مغرور مه شه
لکه خوب د سترگو رپ غوندی دریږی

د ځوانی په کمال کله غافل مشی
د خزان د پڼی رنگ غوندی بدلیږی

یو د زړونو ماتولو ته پیدا دی
بل معمار د ژوندانه دی نه رغیږی

دا یاغی زړگی به څرنگه زه تم کړم
سپین سهار دی چی ماښام غوندی توریږی

ژوندون لنډه ننداره د ستیژ پر سر ده
د فرهاد د تیشه وار غوندی لگیږی

پاکه ربه دا دی څرنگه دستور دی؟
ژوند د لمر په شان غوړیږی بیا ډوبیږی

ولی عبدالله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ